احسان الله ارینزی ۲۰۱۶/۰۲/۲۳

له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو په پلمه

هغه جهاد چې اوس یو څو کسانو برمته کړی او ګټې پرې کوي، یو وخت په ملیونونو خلکو پورې اړه درلوده!
هغه وخت چې د شوروي اتحاد سره پوځونه په افغانستان کې دېره وو، د دې هېواد ټولو خلکو، ښځو او نارینه وو، زړو او ځوانانو، له شمال څخه تر جنوب او له ختیځ څخه تر لویدیځه دا خپله ایماني، تاریخي او وطني دنده بلله چې د هېواد د خپلواکۍ او سرلوړۍ له پاره، د وینو او باروتو اور ته ودانګي، د خپلو سرونو په بیه د خپلواکۍ ناوې ته ښه راغلاست ووایي او د خپلو پلرونو او نیکونو په شان بېوزلی؛ خو سرلوړی ژوند وکړي!
په دې اونۍ کې په هغه ورځ شپږویشت کلونه پوره شول چې سره پوځونه له افغانستان څخه وتلي. په هغه لسو کلونو کې چې سره پوځونه په افغانستان کې زموږ د خلکو په ضد په ورانوونکي او وژونکي جګړه بوخت وو، هېچا دا فکر نه کاوه چې شورویان به له افغانستان څخه ووځي. دې قطبي ییز(خرس) چې هر ځای پښه ایښې وه بیا نه وو په شا شوی!
د ختیځې او منځنۍ اروپا له ځینو هېوادونو څخه نیولې تر بالتیک، قفقاز او منځنۍ آسیا پورې، ټول د شوروي اتحاد د واکمنۍ قلمرو باله کېده او ډېر داسې انګېرله چې افغانستان نور نو یو نیول شوی هېواد دی چې د سیاسي جغرافیا د پراختیا او د هند سمندر د تودو اوبو خوا ته د روسانو د تاریخي یون د تحقق یو پړاو په توګه دوی ته ځانګړی ارځښت لري او په شاتګ نشته!
خو د افغانستان خلکو بیا د نړۍ په تاریخ کې یو بل ګام اوچت کړ او هغه مقوله یې بیا رښتیا کړه چې دا وطن د نړۍ د نه ایلیدونکو ستر واکیو هدیره ده او ډېرو ښکرورو دلته سرونه بایللي!
د شلمې پیړۍ په پیل کې د افغان- برتانیا په دریمه جګړه کې، هغه ستر واکي دړې وړې شوه چې لمر یې په سیمه کې نه ډوبېده او د همدې پیړۍ په پای کې هغه شوروي ماتې وخوړه او څو ټوټې شو چې د نړۍ په شپږمه برخه خاوره یې واکمني درلوده او د نړۍ له زبرځواکونو څخه شمارل کېده.
افغان- شوروي جګړې یو ځلې بیا ثابته کړه چې ټانکونه، توپونه، الوتکې او بمونه د جګړې سرنوشت نه شي ټاکلي، د جګړې سرنوشت هغه سرتیری انسانان ټاکي چې په ډګر کې ولاړ وي او د خپلو ارمانونو له پاره سرونه په سیالۍ ښندي او وېره نه پېژني!
هو! د افغانستان په لکونو خلکو سرونه وښندل؛ خو د یو څو تش په نامه مشرانو د پرله پسې ناکامیو له امله یې هغه ثمر په سترګو ونه لید چې ورته په تمه وو!
خلکو ستره قرباني ورکړه، شوروي پوځونه مات شول؛ خو د سیمې استخباراتي کړیو لوبه داسې ډیزاین کړې وه چې په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل او خلک له څڅوبی څخه ناوې ته کیناستل!
د افغانستان د خلکو د سترې وطني جګړې ثمرې په اوبو لاهو شوې؛ خو یو څو پکې داسې خانان شول چې اوس د نړۍ په ملیونرانو کې شمال دي او دا ټول ستر وطن یې په یرغمل نیولی. عجیبه خو لا دا ده چې همدا کسان د دریځونو شا ته درېږي او خلکو ته د خدای او رسول خبرې کوي!
اوس چې له افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو اوه ویشتمه کالیزه ده، د دې خلکو سترې قرباني ته د درناوی له پاره خپله هغه خاطره له تاسو سره شریکوم چې په ۱۳٦٦ هـ.ش کې پېښه شوه او زه یې عیني شاهد وم.
د هغه کال په خورا تاده دوبی کې زه په الوتکه کې ننګرهار ولایت ته تللی وم. ما په هغه وخت کې د افغانستان په صنعتي پراختیا بانک کې کار کاوه او دنده مې درلوده چې د کنګل جوړولو د هغه فابریکې کار وڅارم چې په تورخم اړه کې د جوړېدو په حال کې وه. کار پای ته ورسېد؛ خو الوتکه نه وه. دوولس ورځې وروسته ما پرېکړه وکړه چې د ځمکې له لارې کابل ته ځم.
هغه وخت د کابل- جلال آباد لاره امن نه وه، هره ورځ به جګړې کېدې او دولتي نقلیه وسایط، مامورین او سرتیري به په کاروانو کې تلل- راتلل.
زما د تګ په ورځ د دوه- درې سوه لویو او کوچنیو کاروان د ګڼ شمېر ټانکونو او سرتېرو په مرسته، د کابل په خوا وخوځېد. ټول په وېره کې وو او داسې تمه کېده چې ژر یا ځنډ به له کمین سره مخامخ شو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د وریښمین تنګي په خوله کې وو چې مجاهدینو د کاروان په سر برید وکړ. موږ د تنګي په پیچومو کې جګړه په سترګو نه لیده؛ خو د ډزو آوازونه مو له لیرې اورېدل او کاروان په ځای ولاړ و. ځینې خلک له خپلو موټرو څخه ښکته شوي او په سیند کې په اودسونه لګیا شول چې د ماسپښین لمونځ وکړي.
له نژدې یو ساعت جګړې وروسته د مجاهدینو کمکی ډلې ماته وخوړه او په شا لاړه. موږ څو کسان له موږه واوښتو او د کاروان سرته لاړو چې وګورو هلته څه خبره ده؟
هلته مو هغه ځوان مجاهد ولید چې ټپي نیول شوی او سرتېرو د زرهپوش په سر ځملولی و. دوی غوښتل چې ټپي مجاهد په سروبي کې روغتون ته وسپاري.
دا ټپی به کله کیناست او کله به بیا بېرته ځملاست.
دی په خېټه په مرمی لګېدلی و؛ خو شا خوا ټپ دومره لوی و چې یو سرتیري د تشناب کاغذ پوره بنډل پکې ایښی و. لکه چې د دهشکې ماشنګنې ګولی د ده نیمه معده او ټولې کولمې شا ته ایستلې وې!
د ځوان مجاهد رنګ ژړ اوښتی و او تږی ښکارېده. په دې کې یو چا ده ته یو پاکټ ګولی ونیوې او وې وېل چې دوه ګولی وخوره، چې درد دې لږ آرامه شي او په خیر سروبي ته ورسي.
زما ښه په یاد دی چې مجاهد ګولی په لاس کې واړولې راواړولې، بېرته یې همغه سړي ته ورکړې او وې ویل ورکه دا ګولی، کېدای شي په (شوروي) کې جوړې وي!!!!
دې ځوان لس دقیقې وروسته زموږ په مخکې سا ورکړه. دی په شوروي (ګولی) لګېدلی و؛ خو هغه (ګولی) یې ونه خوړې چې ده ګومان کاوه چې دا به هم په شوروي کې جوړې وي!!
تاسو وګورئ چې د افغانستان خلکو د جهاد په کلونو کې د سر او مال داسې قربانۍ ورکړې چې ښایي په تاریخ کې ساری ونه لري. دې اتلولیو ته باید په درنه سترګه وکتل شي؛ خو په عین حال کې د دې ستر ملي حرکت د ناوړه پایلو عاملینو او د جهاد په کاذبو مدعیانو باید لعنت ووایو چې ځمکې قراردادونه او امکانات یې غصب کړل، د امریکایانو په پیسو ملیونران او بلیونران شول؛ خو د خلکو ډېرو سترو او نه هیرېدونکو سرښندونو ته یې په سپکه سترګه وکتل.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ